**بسم الله الرحمن الرحيم**

**اردوغان...**

**د فلسطین له نامه څخه د یهودانو تر هیلې!**

**(ژباړه)**

مسلمانانو سیاستوال او حکام په ځانګړې ډول د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان او د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر مولود چاووش اوغلو له واقعیت څخه لرې په دروغو څرګندونو، چې حتا واقعیت یې هم دروغ ګڼي او د عامه رایې په منحرف کولو عادت شوي دي؛ لکه څنګه چې د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر وویل: «په اسراییلو کې زموږ د سفیر شتون مهم دی، ترڅو خپل پیغامونه په مستقیمه بڼه «تل ابیب» ته ورسوو او دغه کار له فلسطین څخه د دفاع لپاره دی.» تر دې وړاندې د ترکیې «انادول» خبري اژانس د ۲۰۲۲م کال د اپرېل پر ۲۰مه د اردوغان څرګندونې خپرې کړې چې ویلي یې و: «له اسراییلو سره زموږ اړیکې د فلسطین له قضیې څخه د دفاع لپاره دي.» نوموړي دا څرګندونې د عدالت او پراختیا ګوند د پارلمان د استازو په غونډه کې وکړې. اردوغان همدارنګه وویل: «له فلسطین څخه د دفاع لاره دا ده، چې له اسراییلو سره اړیکې منطقي او منځلارې وي.» د ترکیې حکام له فلسطین او خلکو سره یې هېڅ خواخوږي نه لري او د دې خاورې له خلکو سره د خواخوږۍ په پلمه غواړي چې پر برخلیک یې سوداګري وکړي. دا تکراري دوکه پر دغه شریف امت او په ځانګړې توګه د فلسطین پر خلکو بې اغېزې شوې ده، لکه څنګه چې واقعیت هم د هغوی ادعاوې دروغ ګڼي. همدارنګه اردوغان وړاندې ویلي و: «د ترکیې او اسراییلو اړیکې د سیمې لپاره حیاتي ارزښت لري.» (سرچینه: د ترکیې خبري اژانس) اردوغان زیاته کړه: «په طبیعي پروسه کې د اسراییلو او ترکیې د اړیکو له بیا پیلولو سره مخالف نه یم.» دغې ادعا ته په اشارې سره نوموړي وویل: «د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو عادي کول د ټولې سیمې په ګټه دي.»

اردوغان د مسخه شوي یهودي رژیم نږدې ملګری دی، د فلسطین قضیه او د هغه د دروغو څرګندونې ډېر واټن لري. د فلسطین له قضیې څخه د ملاتړ په پلمه د اردوغان له هغو دروغو څرګندونو څخه چې نوموړی یې هر وخت مطرح کوي او مهارت پکې لري، یوازینۍ موخه د احساساتو پارول دي او بس. نوموړی د ترکیې د لومړي وزیر په توګه تر ټاکل کېدو درې کاله وروسته په ۲۰۰۵م کال اسراییلو ته لاړ او هلته یې د «تیودور هرتزل» پر قبر د ګلونو ګېډۍ کېښودې.

د «ترک‌پرس» ویبپاڼې د اسراییلو د انرژۍ د وزیر «یووال اشتانیتز» څرګندونو ته په کتو دغو اړیکو ته اشاره کړې ده. اردوغان تل د فلسطین او اسلام په اړه غولوونکې څرګندونې کوي؛ خو له اشغالګرو سره بیا پیاوړې اقتصادي اړیکې لري. د ۲۰۱۶م کال د فبرورۍ پر ۲۷مه د خپاره شوي راپور پر اساس د اسراییلو د انرژۍ وزیر وایي: «په ۲۰۰۸ او ۲۰۱۳م کلونو کې پر ځینو ډیپلوماتیکو اختلافونو سربېره د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګریزې اړیکې نه دي اغېزمنې شوې او په ۲۰۰۹ م کال کې د دواړو لوریو تر منځ د سوداګریزې تبادلې کچه دوه میلیارده، ۵۹۷میلیونه او ۱۶۳زره ډالرو ته رسېدې؛ په داسې حال کې چې پر

یادو اختلافونو سـربېره په ۲۰۱۴ م کال کې د دواړو لورو تر منځ سـوداګریزه راکړه ورکړه پنځه میلیارده، ۸۳۲میلیونه او ۱۸۰زره ډالر وه.»

اردوغان د سیمې نازک حالت ته په کتو د یهودیانو رژیم مهم او سیاسي ثبات درلودونکی هېواد بولي او کېدای شي چې د ترکیې او اسراییلو د سوداګریزې مصالحې کیلي د فلسطین په ګازو پورې اړه ولري، چې د دواړو لورو تر منځ د اړیکو مهم ملاتړی بلل کېږي. د هغې څېړنې پر اسـاس چې «دویچه وله» په انګلیسـي ژبه ترسـره کړې او د ۲۰۱۷ م کال د ډیسـمبر پر ۱۲مه یې خپره کړې، کولی شــو دغه نظریه هلته ښــه وګورو. د ترکیې د چارو کار پوه او په دغه هېواد کې د «هاینریش بل» موســســې مدیر «کریستین بارکل» وایي: «اردوغان غواړي چې د ټرمپ او اسراییلو پر وړاندې خپل ځان د مسلمانانو الګو وښيي او په دې سره هڅه کوي چې له خپلو ژبنیو مهارتونو څخه په راتلونکو ټاکنو کې، چې ډېر ژر به ځان ورته نوماند کړي، ګټه واخلي.» بارکل زیاتوي: «ترکیه ۶۰سلنه ګاز له روسیې څخه واردوي، خو وروستیو حالاتو ته په پام سره هڅه کوي، چې یو نوی تامینوونکی د ځان لپاره پیدا کړي، چې هغه د اسراییلو دولت دی.» د ترکیې دولت لوړپوړی سلاکار پروفیسور کارهان په دې څېړنه کې وایي: «اقتصـاد یوازې د اعدادو او شـمېرو په ژبه پوهېږي او په تېرو څو کلونو کې اسـراییلو ته د ترکیې صـادرات تر ۲،۵ میلیارده ډالرو اوښتي دي او همدارنګه د ودې په حال کې دي. دا په دې مانا ده چې د ترکیې لپاره په نړۍ کې د اسراییلو بازار تر ټولو مهم بازار بلل کېږي.»

پر دې سـربېره، «پورتال» نړیواله څېړنیزه ویبپاڼه چې د ترکیې د اقتصـاد او سـوداګرۍ وزارت له لوري یې ملاتړ کېږي، د اردوغان او یهودو رژیم تر منځ د سـوداګرۍ اړوند ټول موضـوعات خپروي. د یادولو وړ ده چې د عدالت او پراختیا ګوند د حکومت پرمهال د ترکیې او هغه دولت (اسـراییلو) تر منځ چې ادوغان یې «د اشـغال او تروریزم دولت» بولي، د سـوداګریزې راکړې ورکړې کچه د تېر په پرتله څلور برابره شوې ده.

دغه واقعیت له راکړې ورکړې څخه ښـه څرګندېږي، چې په ۲۰۰۲ م کال کې د ترکیې او یهودي رژیم تر منځ سـوداګریزه راکړه ورکړه ۱،۳۹ میلیارده ډالر وه، خو په ۲۰۱۴م کال کې ۵،۸۳ میلیارده ډالرو ته لوړه شـوه. دغه کچه تر ۲۰۱۷م کال پورې د ډېرېدو په حال کې وه؛ یعنې تر هغه وخته چې اردوغان د امریکا د پخواني ولسـمشـر ډونالډ ټرمپ د هغه تصـمیم پر وړاندې توندې څرګندونې وکړې، چې په پر اساس یې قدس د اشغالګر دولت د پلازمېنې په توګه په رسمیت وپېژاند. شمېرې څرګندوي چې د ترکیې او یهودي رژیم تر منځ اړیکې په دوامداره بڼه د پراخېدو په حال کې دي او له دغه وحشي صفته رژیم سره د ترکیې د وارداتو او صـادراتو له اندازې څخه ښـکاري، چې ترکیه د اردوغان په دوره کې د خپل حزب تر څارنې لاندې، د اشـغالګرو د اقتصاد ملاتړ کوي. پر همدغه بنسټ، دې ته په پام سره چې ترکیه او یهودي رژیم هر کال لسګونه میلیارده ډالر راکړه ورکړه کوي، نو د دوی تر منځ د دښمنۍ ادعا سسته او غیر واقعي ښکاري. همدارنګه یهودي رژیم ته د ترکیې د صادراتو کچه هر کال له دوو میلیاردو ډالرو لوړه وه او په دې توګه ترکیه له دغه اشـغالګر دولت سـره د سـوداګریزې راکړې ورکړې له مخې له امریکا، المان او چین سره په یوه کتار کې راځي.

په هغو شمېرو کې مو زیاتوالی نه دی کړی، چې د اشغالګر رژیم له اقتصاد څخه د ترکیې د ملاتړ اندازه ښيي؛ ځکه ترکیه په سیاسي او اقتصادي برخه کې له هغه رژیم څخه ملاتړ کوي، چې اردوغان یې په عربي او نړیوالو غونډو کې په ترهګرۍ تورنوي؛ مګر بل خوا بیا وینو چې د ترکیې اوسنی ولسمشر او د ترکیې خلکو او مسلمانانو ته د خیالي ژمنو ورکوونکی اردوغان او د نورو رژیم د هغو دولتونو د لېست په سر کې دی، چې له اقتصادي پلوه د دغه ناوړه رژیم ملاتړ کوي.

اردوغان د خپلو ویناوو برعکس کارونه کوي. نومورې په فلسطین کې د یهودو ناوړه رژیم پیاوړی کوي، د ژوند وسایل ورته چمتو کوي او له مسلمانانو سره خیانت کوي. موږ اردوغان او د هغه په څېر نورو ته چې د یهودو د رژیم ملاتړ کوي، وایو چې دغه حالت به تل دوام ونه کړي، ځکه داسې توپان په لاره دی چې ستاسو کمزوری مېز او څوکۍ به مات کړي. دا توپان د نبوت پر تګلاره دویم راشده خلافت دی، چې ژر تر ژره به تاسیس شي، د یهودو د رژیم ریښې به له منځه یوسي او د اسراء او معراج خاوره به د هغوی له چټلیو څخه پاکه کړي؛ ترڅو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه زیری په حقیقت بدل شي، چې فرمایلي یې دي:

**«لَا تَقومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتَلَ المُسلِمُونَ اليَهُودَ، فَيَقتُلُهُمُ المُسلِمُونَ حَتَّى يَختَبِئَ اليَهُودِيُّ مِن وَرَاءِ الحَجَرِ وَالشَّجَرُ، فَيَقُولُ الحَجَرُ أو الشَّجَرُ: يَا مِسلِمُ ى عَبدَ الله هَذَا يَهُودِيٌّ خَلفِي، فَتَعَالَ فَاقتُلهُ، إلَّا الغَرقَدَ، فَإِنَّهُ مِن شَجَرِ اليَهُودِ»**

***ژباړه:*** *قیامت تر هغو پورې نه راځي، ترڅو چې مسلمانان له یهودانو سره ونه جنګېږي او مسلمانان به یهودیان وژني، تر دې چې یهودان به د تیږو او ونو تر شا پټېږي او هره ونه او تیږه به وایي: اې مسلمانه! اې د الله بنده! دغه یهودي زما تر شاه پټ دی، راشه ویې وژنه! خو د غرقد ونه به دا نه وایي، ځکه هغه د یهودو ونه ده.*

**سرچینه: الرایه مجله، (۴۱۰) ګڼه**

**لیکوال: استاد عبدالخالق عبدون علي**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**